SHTAMANAI
شتمنی

**مالیه دهندگان گرامی!**

جلب رضایت مالیه دهنده از طریق عرضه خدمات به موقع و مسلکی و نیز جمع آوری درست و شفاف عواید از جمله وظایف و اهداف عمدهٔ ما میباشد.

پنجشنبه| ۲۸ جمادی الاول ۱۴۴۴/ ۱ جدی ۱۴۰۱| ۲۲ دسامبر ۲۰۲۲| سال اول | شماره ۳۴ | ٤ صفحه



# د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي د مالیې له وزیر سره وکتل




د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر (UNAMA) مشري روزا اوتنبایوا د مالیې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري سره وکتل. په دغه کتنه کې د مالیې وزیر، میرمن اوتنبایوا ته د ښه راغلاست ویلو تر څنګ د ملګرو ملتونو د ترسره سوو بشري مرستو له امله مننه وکړه او غوښتنه یې وکړه،چې بشري مرستي دي د دولتي ادارو سره په همغږۍ ترسره سي او د بشري مرستو تر څنګ باید په پراختیایي برخو کې هم مرستي وسي. ښاغلي بدري همدا راز یادونه وکړه، چې اوسمهال د مالیې وزارت ټولي چاري د بشپړ شفافیت په رڼا کې په مسلکي ډول پر مخ وړل کیږي او ټول عواید د سیستم له لاري په شفاف ډول راټولیږي. روزا اوتنبایوا په افغانستان کې د اقتصادي ثبات د ساتني، ملي بودیجې د جوړېدو او د عادي بودیجې تر څنګ د پراختیایي چارو د ترسره کولو له امله د مالیې وزارت د رهبرۍ ستاینه وکړه او ډاډ یې څرګند کړ، چې د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان به له افغانستان سره د مثبت تعامل او بشري مرستو جاري ساتلو ته دوام ورکوي.

## د بلخ په ګمرک کې د نظامي توکو د قاچاق مخنیوی وسو



د بلخ ګمرك د تشریح برخي منسوبینو په یو بار وړونکي موټر کې یو شمېر نظامي توکي، چې په ډېر مهارت سره ځای پر ځای سوي وو او غوښتل یې افغانستان ته یې وارد کړي، کشف او ونیول. په یادو نظامي توکو کې ۲۳۸ دانې د ام فور شاجور نښلونکي، ۳۰۰ دانې د ام فور شاجور پوښونه، ۴۶



دانې د ام فور ورځني دوربینونه، ۱۹۹ دانې د ام فور پایې او ۸۸ دانې د ام فور جري شامل دي. د یادوني وړ ده، چې په دې تور نیول سوی کس د نورو تحقیقاتو لپاره اړونده امنیتي ارګانونو ته سپارل سوی دئ.

## د مالیې وزیر د قوش تېپې کانال له چارو لیدنه وکړه



بلخ ولایت ته د مالیې سرپرست وزیر ملا هدایت الله بدري، د ملي پراختیا شرکت عمومي اجرایوي رئیس عبدالرحمن عطاش، د بلخ والي محمد داود مزمل او مل پلاوي د خپل سفر په ترځ کې د قوش تېپې کانال له بېلا بېلو برخو لیدنه وکړه. د مالیې سرپرست وزیر ملا هدایت الله بدري د قوش تېپې کانال له چارو د خوښۍ څرګندولو ترڅنګ زیاته کړه؛ د ا.ا.ا ژمن دئ، تر څو د دې سترې او ملي پروژې چاري په هر ډول شرایطو کې بشپړي کړي، چې ټول لګښت یې د هېواد له داخلي عوایدو پوره کېږي. د ملي پراختیا شرکت عمومي اجرایوي رئیس عبدالرحمن عطاش له راغلي پلاوي مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ، چې د کانال د کیندني چاري په ډېري چټکۍ د ۳۲۵۰ ماشینرۍ له لوري پرمخ وړل کېږي او هڅه کوو، چې د دې ستري او ملي پروژې چاري په ښه کیفیت او کمیت بشپړې کړو. د یادوني وړ ده، چې د قوش تېپې کانال د هیواد په تاریخ کې له سترو او ملي پروژو څخه ده، چې په بشپړېدو سره به یې د هیواد په شمال کې شاوخوا درې نیم میلیونه جریبه شاړه او بې حاصله مځکه خړوبه سي.

## سرمقاله



### د تولید ودې ته د مالیې وزارت ځانګړې پاملرنه

د هیواد په کچه د هیواد د دولتي او خصوصي شرکتونو او لاسي صنایع د تولیداتو او سوداګریزو توکو نندارتونونه په کورنۍ او بهرنۍ کچه د سوداګرو او سیلانیانو پاملرنه ځان ته را جلبوي، چې دغه چاره د کورنیو تولیداتو په خاصه توګه د دولتي تولیدي شرکتونو په وده کې اغېزمن رول لري. اسلامي امارت د کورنیو تولیداتو ترویج او لاسي صنایع د ودې په موخه په کابل کې ستر نندارتونونه ترسره کړل، چې د دولتي لوړ پوړو چارواکو په ګډون د کابل او شاوخوا ولایتونو اوسېدونکو، بهرنیو او کورنیو مېلمنو هم ګډون پکښي کړی وو. په دغه نندارتون کې د هیواد په کچه د دولتي او خصوصي تولیدي او سوداګریزو شرکتونو او لاسي صنایعو بېلابېل تولیدي او سوداګریز توکي ننداري ته وړاندي سول، چې موخه یې د کورنیو دولتي او خصوصي شرکتونو د تولیداتو د پېر او پلور رواجول او دغه تولیداتو ته په نړیواله او سیمه ایزه کچه د بازار موندنه وه.
په دغه نندارتون کې د مالیې وزارت د دولتي شرکتونو اړوند د صکوکو مطبعې او ضرابخانې دولتي شرکت، د پاسپورټ، پلېټ نمبر، ربړي، لایزري او ډبریني ټاپې، مهرونه، مډالونه، دولتي نښانونه، کانکور پاڼي، خوندي او غیر خوندي سندونه، امنیتي نښې، ګمرکي نښي، سندونه، سټکرونه او په لاس جوړو سوي مسکوکات، د سپین زر شرکت کاغذي دستمال، تشناب کاغذ، زغري غوړي او د پنبې دانې غوړیو تولیدات، د کابل سېلو ډوډۍ، ناشتو، کلچو، کیك او د کنځلو د ناشتو ډول ډول تولیدات، د لاسي صنایعو شرکت غالۍ، ګیلم، فرشونه، شیشه ګرۍ، منبت کارۍ، میناکارۍ، سفالونه، د لرګین او ربړین بېلابېلو لاسي صنایع او د افسوټر ټرانسپورټي دولتي شرکت خپل تولیدات، فعالیتونه او د خدمتونو بېلګې ننداري ته وړاندي کړي.
ګرانو هیواوالو ته بلنه ورکوو، چې خپلو کورنیو تولیداتو ته د ځانګړي پاملرني او د پېر پر مهال له بهرنیو تولیداتو څخه کورنیو تولیداتو ته لومړیتوب ورکئ او په دې سره له موږ او هیواد سره مرسته وکړئ، چې خپل تولیداتو موښه وده پیدا کړي او د بهرنیو بې کیفیتو څه خلاص سو. یو بل ته لاس ورکړو، د ځان بسیاینې لپاره په یووالي او قوت کار وکړو.

**درنښت**
**اداره**



د یو شمېر دولتي شرکتونو عمومي ارزونه تر سره سوه

۴



رئیس عمومی تفتیش داخلی به ولایت هرات سفر نمود

۴



د خپل هیواد خپل تولید ملي نندارتون پای ته ورسېده

۴



د پیازو او تازه رومیانو ګمرکي وارداتي تعرفه ټیټه سوه

۴



Minister of Finance visits Qush Tepa Irrigation Canal

٤

## د گمرکونو د وضعیت ارزوني په موخه تخنیکي ناسته ترسره سوه



د گمرکونو د وضعیت ارزوني په موخه تخنیکي ناسته، د مالیې وزارت د گمرکونو لوی رئیس ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ، چې د گمرکونو لوی ریاست مرستیالانو، یو شمېر رئیسانو او د ولایتي گمرکونو مسؤلینو هم په کې گډون درلود، د ویډیو کنفرانس له لاري ترسره سوه. د غونډې په پیل کې د گمرکونو لوی رئیس گډونوالو ته ښه راغلاست وویل او د ولایتي گمرکونو د مسؤلینو له صادقانه کړنو څخه یې مننه وکړه. نوموړي د سوداگرو ستونزو ته د رسېدو، د سوداگریزو مالونو د چټکو طی مراحلو لپاره د کاري وخت د زیاتوالي او د ولایتي گمرکونو د اړوندو ادارو تر منځ د لا ښې همغږۍ په برخو کې دوی ته لازمي سپارښتني ورکړې. د ولایتي گمرکونو مسؤلینو هم په خپل وار سره په یادو گمرکونو کي د شته ستونزو یادونه وکړه، چې د گمرکونو لوی ریاست د رهبرۍ له لوري ورته د ژر حل کېدو ډاډ ورکړل سو. په پای کي د گمرکونو لوی ریاست د پلان جوړوني، پالیسۍ، څارني او ارزونې رئیس ښاغلي محمد وسیم عثمان له لوري په گمرکونو کي د ۱۴۰۱مالي کال د لړم میاشتي د تر سره سوو فعالیتونو په تړاو تولیز راپور وړاندي سو، چې د غونډې گډونوالو د یاد راپور پر بېلابېلو اړخونو بحث وکړ او د چارو د لا ښه والي لپاره د ولایتي گمرکونو مسؤلینو ته لازمي سلا مشورې هم ورکړل سوې. د یادوني وړ ده، چې د گمرکونو لوی ریاست رهبري هره میاشت د هیواد د ټولو گمرکونو تخنیکي ارزونه کوي؛ څو سته ستونزو ته پر خپل وخت سره رسېدنه وسي.

## سطح صادرات و واردات از طریق کار گوهای هوایی افزایش یافته

در نتیجه ایجاد تسهیلات برای تجار ملی و شفافیت در گمرکات از سوی وزارت مالیه سطحه صادرات و واردات از طریق کار گوهای هوایی افزایش چشمگیری یافته است. در ۱۵ ماه گذشته (از شروع ماه سرطان الی ماه عقرب سال ۱۴۰۱) از طریق کارگوهای هوایی ارزش گمرکی اموال وارداتی ۷ میلیارد و ۸۰۰ میلیون افغانی میباشد، که از این طریق ۹۵۴ میلیون افغانی عواید بدست آمده به خزانه دولت سپرده شده. همچنان از طریق کارگوهای هوایی به ارزش ۴ میلیارد و ۳۰۰ میلیون افغانی صادرات صورت گرفته که از طریق آن ۱۱ میلیون افغانی عواید بدست امده.

## رئیس عمومی تفتیش داخلی به ولایت هرات سفر نمود



در سلسله سفرهای ولایتی، هیئتی به سرپرستی آقای انجنیر عبداللطیف خالد رئیس عمومی تفتیش داخلی وزارت مالیه به منظور ارزیابی امور و پیگیری تطبیق توصیه های تفتیش قبلی از گمرکات ولایت هرات، (تورغوندی و اسلام قلعه) و از دفاتر مربوطه این ادارات بازدید نمود. آقای انجنیر عبداللطیف خالد در مورد تطبیق توصیه های تفتیش با مسئولین ادارات مذکور صحبت نمود و تاکید کرد که توصیه ها باید بیدون تاخیر عملی گردیده و به ریاست عمومی تفتیش داخلی اطمینان داده شود. همچنین رئیس عمومی تفتیش داخلی در دیدارهای جداگانه با مسئولین مدیریت های عمومی نفت و گاز و نورم و استاندارد ولایت هرات دیدار نموده و بر هماهنگی بشتر در امور مربوطه تاکید کرد. رئیس عمومی تفتیش داخلی وعده سپرد که در بازگشت به کابل مشکلات و خواست های لازم این ادارات را با مسئولین مربوطه در میان بگذارد تا راه حل های مناسب برای شان جستجو گردد.

## د یو شمېر دولتي شرکتونو عمومي ارزونه تر سره سوه



د مالیې وزارت دولتي شرکتونو عمومي ریاست له لوري د ارزاق، افغانطیور، نفت او گازو او افغان نساجي دولتي شرکتونو عمومي ارزونه د متوازن کارت له مخي په سټنډرډ او معیاري ډول تر سره سوه. دغه ارزونه چې پر نړیوال معیار او سټنډرډ برابرو اصولو ترسره کېږي، مشري ئې د دولتي شرکتو د ریاست او تطبیق ئې د رهبرۍ د مدیره هئیت د غړو لخوا پرمخ وړل کېږي. په دې ارزونه کې د هر شرکت مالي، سوداگریزه، اداري، ودي او ارتقاء برخې شاملي دي، چې د هر شرکت ارزیابۍ له یوې تر دوو ورځو دوام کوي. د یادوني وړده، چې د دې ارزونې په پایله کې به د ټولو دولتي شرکتو ارزیابي وسي، نیمگړتیاوي به په نښه سي، تولیدات به معیاري او مسلکي کادرونه به په کار وگمارل سي.

## د خپل هیواد خپل تولید ملي نندارتون پای ته ورسېده



د کورنیو تولیداتو او محصولاتو د پېژندني، بازار موندني او ملاتړ په موخه د (خپل هیواد خپل تولید) په نوم ۳ ورځنی ملي نندارتون د کابل په کانټیننټال هوټل کي پیل سو. دغه نندارتون چې گڼو دولتي او خصوصي شرکتونو گډون پکښي کړی، یکشنبه د لیندۍ له ۲۰ مې نېټې پیل او د همدې میاشتي تر ۲۳مي نېټې پورې یې دوام وکړ. د یادوني وړ ده، چې په دغه نندارتون کي د مالیې وزارت د دولتي شرکتونو اړوند (سپین زر، د صکوکو مطبعې او ضرابخانې، د کابل سیلو، افسوتر ټرانسپورټي او افغان کارټ دولتي شرکتونو) هم خپل تولیدات او د فعالیتونو بېلگي د بازار موندني او خدماتو په موخه ننداري ته وړاندي کړي وې.

## بازداشت یک تن به اتهام جعلی بودن اسناد گمرکی در گمرک ننگرهار



مسئولین باهوش گمرک ولایت ننگرهار فردی را که قصد داشت دو تیلر مملو از زغال سنگ را با استفاده از اسناد جعلی گمرکی به کشور همسایه پاکستان انتقال دهد، دستگیر کردند. در حالی که این متهم مدتی پیش نیز دو لاری زغال سنگ را با اسناد جعلی به کشور همسایه صادر کرده بود که اکنون به جرم خود اعتراف نموده است. این فرد متهم برای تحقیقات بیشتر به نیروهای امنیتی سپرده شده است. قابل ذکر است که مسئولان ملکی و امنیتی گمرکات وزارت مالیه هوشیار بوده و به هیچ فردی اجازه انجام فعالیت های غیرقانونی را نخواهند داد.

## نمایشگاه ملی امام ابو حنیفه(رح) برگزار گردید

نمایشگاه ملی ۷ روزه تحت عنوان (امام ابو حنیفه رحمت الله علیه) به منظور ترویج و حمایت از تولیدات داخلی در پایتخت کشور (کابل) برگزار گردید. در این نمایشگاه که بیش از ٦٠٠ شرکت دولتی و خصوصی محصولات خود را در ٦٤٠ غرفه به نمایش گذاشته بودند، شرکت های دولتی (سیلو مرکزی، نفت و گاز افغانستان، تخم های اصلاح شده بذری، فارمسی ابن سینا) وزارت مالیه و شماری از شرکت های دیگر دولتی نیز تولیدات خود را به منظور بازاریابی به نمایش گذاشتند. الحاج ملا هدایت الله بدری وزیر مالیه، الحاج ملا محمد ناصر آخند معین عواید و گمرکات، معراج محمد معراج رئیس عمومی عواید و شماری از روسا نیز به منظور حمایت از تولیدات و محصولات داخلی از این نمایشگاه دیدار نموده و این نمایشگاه را گامی بزرگ در عرصه حمایت و بازاریابی محصولات داخلی و ایجاد روابط تجاری بهتر میان تجار داخلی و خارجی دانستند. قابل یادآوریست که این نمایشگاه بزرگ امام ابوحنیفه رحمت الله علیه از تاریخ ۱۰ قوس آغاز و ۱۷ همین ماه به پایان رسید.

## د بلخ د پنبې او نباتي غوړو شرکت له کروندگرو څخه پنبه پېرودلې

د بلخ پنبې او نباتي غوړو دولتي شرکت وتوانېد چې په روان کال کي د هیواد له کروندگرو څخه شاوخوا ۴۷ ټنه دانه لرونکې پخته وپېري، چې دغه پېرېدنه د وروستیو شلو کلونو په پرتله بې ساري گڼل کېږي. پنبه دانه د افغانستان یو له مهمو او بنسټیزو کرنیزو محصولاتو څخه ده، چې له دانو څخه یې په غذایي غوړو کي کار اخیستل کېږي. د پنبې پېرودل زموږ د کروندگرو او هیوادوالو لپاره یوه ښه زیرې دئ، ځکه له دې وروسته د هیواد د کرني په وده او پیاوړتیا کي له بزگرانو سره مرسته سوې او د هیواد د کرنیزو محصولاتو په پېرلو سره غوړ باکیفیته او گټور تولیدات کورني بازارونو ته په ټیټه بیه وړاندي کېږي.



همدا راز د بلخ د پنبې او نباتي غوړو دولتي شرکت د دانه لرونکي پختې د پروسس فابریکې (لومړۍ حوزه) هم خپل بنسټیز فعالیت پیل کړی، چې تر اوسه یې تر ۸۰۰ عدل مالوچ تولید کړی او کورنیو او بهرنیو بازارونو کي پلور ته چمتو دي. همدارنگه د بلخ د پنبې او نباتي غوړو دولتي شرکت د تیلي نباتانو فابریکې په روان کال کي یو ځل بیا د پنبه دانه غوړیو، کنجاړې، پوستکي او صابوني موادو د تولید په برخه کي خپل فعالیت پیل کړی، چې هره ورځ یې محصولات بازار ته استول کېږي. د یادوني وړ ده، چې د بلخ د پنبې او نباتي غوړو دولتي شرکت تولیدات سره له دې چې لوړ کیفیت لري؛ بیه یې هم د ورته بهرنیو محصولاتو په پرتله ډېره مناسبه ده.

شتمني
SHTAMANAI

# په یوه اداره کې د مسلکي شخص ګمارنه

احمد ضیاء «نیازی»
د مالیې وزارت د بشري سرچینو ریاست
د روزنې او وړتیا لوړنې امر

دوهمه او وروستۍ برخه

**۱۱ - ځان نه پرتله کول**

لکه څرنګه چې شخصي ژوند کې نباید خپل ځان له بل چا سره پرتله کړو نو همدارنګه کاري ساحه کې هم باید داسې وشي. د بېلګې په توګه ستاسو یو همکار پس له یو کال زحمت او تلاش څخه ترفیع کوي نو ضرورنده چې ته هم دقیقا داسې وکړې بلکه تا سو باید د خپل موفقیت لپاره هڅه او کوشش وکړئ.

**۱۲ – جزء ګرا**

یو بریالی کارمند همېشه کوچنۍ غلطیانې نادیده نه نیسي بلکه ستره خطا یې بولي لکه په اسنادو او همدارنګه بریښنايي لیکونو املايي او تاریخي اشتباه د ادارې لپاره ناوړه پایلې درلودلی شي نو همېشه کوشش کوئ چې کوچنۍ او جزئي اشتباهاتو څخه ځان وساتئ.

**۱۳ – د روندونو تعقیبول**

آګاهي ( خبرتیا ) د ورځینو چارو په اړه یوه ډېره مهمه او اړینه مسلئه ده د روندونو تعقیبول او ورځینو چارو څخه خبرتیا پر نویو ستراتیژیکو برنامو جوړولو کې مرسته کوي. دارنګه کولی شي چې خپل پخواني ( مشتریان ) وساتي او نوي مشتریان جذب کړي. تا سو بیا د ډاډ حاصل کړئ چې پر مختلف سن و سال کارمندان لرئ او ټول باید یوشان مؤثر مدیریت شي.

**- ۱۴ انتقاداتواو پیشنهاداتوته غوږ نیول**

دا یوه ډېره اړینه موضوع ده چې کارمند باید انتقادونه اونیوکې شخصي ونه ګڼې بلکه د کار او فعالیت پربهبود کې له هغه څخه کار واخلي ترڅو موثره نتیجه ترې لاس ته راوړي.

**۱۵- له شایعا توڅخه ډډه**

د ستونزو پېژندل یوه اداره کې اړینه ده، نو کله چې کارمند اداره کې ستونزې ته متوجې کېږي نو باید د هغې د حل په اړه نورو کارمندانو سره خبرې ونشي او شایع یې نکړي تر څو اداراه کې منفی فضا رامنځته ته شي. نو یوازې پردی دلیل چې له شایعاتو څخه ډډه وشي نباید ستونزې او جریانات نالیدلي وګڼل شي بلکه له هغه چاسره چې مثبت تغییر او د ستونزو په حل




کې مرسته کولی شي شریکې کړل شي.

**۱۶- د کار د سرته رسولومهارت**

یو بریالی کارمند هغه دی چې د ادارې له خوا ورسپارل شوی کار په ښه شکل سرته ورسوي او د اداري اهدافو لاسته راوړلو لپاره هلې ځلې وکړي.

**۱۷- د زده کړې علاقه**

یوه اداره داسې کارمند غواړي چې هڅاند او د اطلاعاتو په تلاش کې وي اود دې کار لپاره په مختلفو کنفرانسوکې ونډه واخلي. دا هغه کارمندان دی چې د یوې ادارې پرتقویت کې عمده اوحیاتي رول لوبوي.

**۱۸- د ادارې په رویدادونو کې ونډه اخیستل**

کله چې یوه اداره کومه برنامه جوړوي له عمده تنظیماتو څخه ترساده تنظیماتو پوري لکه د وخت تقسیمول او نورټول اړوند ترتیبات چې لازم وي ترتیب او د ضرورت په وخت کې ګډون کول دي او لازمي یاد داشتونو مشخصول دي چې د ادارې په اړه وي .

**۱۹- د کار زیاتوالي په صورت کې نه تسلیمېدل**

اداره داسې کارمند ته اړتیا لري چې د فشار او نا راحتي په وخت کې تسلیم نشي بلکه برعکس د فشارسره مقاومت وکړي او ډېر راحتي سره ستونزه حل کړي. د یادونې وړده چې یو مدیرباید اطمینان حاصل کړي چې خپلوکارمندانو ته فشار او استرس وارد نه کړي تر څو یې کارمندان فشار احساس نکړي بلکه د خوشحالۍ احساس وکړي.

**۲۰- د مرستې غوښتنه**

مرسته غوښتل د ضعف نه بلکه د قوت نښه ده بلکه د مرستې او همانګې پرته هیڅوک نشي کولای چې ټولې اداري موخې لاس ته راوړي او دا د اشتباهاتو څخه مخنیوی کې مرسته کوي.

**۲۱- د ساز ګاری د روحیې درلودل**

یوه اداره داسې کارمند ته اړتیا لري چې له تغییراتو سره سازګاري ولري حتا پرغیرمنتظره حالاتو کې یعني داسې وسي چې د ستونزو د حل وړتیا ولري کامیابه کارمندان له تغیراتو څخه استقبال کوي او علاقمند وي چې تغییرات رامنځته شي.

**۲۲- صداقت**

کله چې یو کارمند صادق او شفاف وي دا د ادارې پرستړې دارایي کې حسابېږي ځکه چې نور همکاران یې له هغه څخه زده کوي او د هغه صداقت تحسینوي.

**۲۳- خوشبین (مثبت ګرا)**

یو خوشبین کارمند کولی شي چې نوي نظریات وړاندې کړي او هغه کسان چې د یو واحد هدف لپاره مختلفې لارې چارې د حل لپاره وړاندې کوي. یو خوشبین کارمند کولی شي چې ټیم متمرکز وساتي حتی هغه وخت چې له ستونزوسره مخ وي، یعنې یوه اداره داسی کارمند غواړي چې مثبت ذهن ولري او مشکلاتو سره مقابله وکړي ځکه چې داسې کولی شي خپلو اطرافیانو ته مثبته انرژي ورکړي.

**۲۴- خاکساری او متواضع**

خبرې اترې د موفقیت په اړه کولی شي ستاسو کاري ټیم ته انګېزه ورکړي کله چې یو کارمند خپل عزت او شکوه اشتراک ته وړاندې کوي او انتقاد هم قبلوي د یوې ادارې فرهنګ ته په حقیقت کې ارتقا ورکوي چې د ملګرتیا او ټیمي کارترویج سبب کېږي.

**۲۵- د فن خاوند**

کله چې یو کارمند د خپلې کاري حوزې فناوري څخه آګاه اوسي نو دا یو ستر امتیاز ګڼل کېږي. هغوی نه دا چې یوازې کولی شي تازه نظریات وړاندې کړي بلکه کولی شي خپلو همکارانو ته دغه اطلاعات ور زده کړي ترڅو د نوموړې اداري وخت او منابع له ضایع څخه ډډه وشي.

**د بلخ سېلو دولتي شرکت**

د بلخ سېلو دولتي شرکت د رغوني چارې په ۱۳۶۲ ل کال پیل او په ۱۳۸۵ ل کال پای ته ورسېدې او په فعالیت یې پیل وکړ. دغه شرکت له درو اساسي او نورو اداري مرستندویه برخو څخه جوړ دئ.

**الیواتر یا د غنمو زېرمه تون**

په دغه زېرمه تون کې په یوه مهال ځلوېښت زره متریکه ټنه غنم خوندي او له پاکېدو او پروسس وروسته کولای سي دغه غنم د اوږدې مودې لپاره وساتل سي او په بېړنیو حالاتو کې ګټه ترې واخیستل سي.

**ژرنده**

د ژرندې برخه په څلوېښتو ساعتونو کې د لومړۍ او دویمې درجې سل متریک ټنه اوړو د تولید وړتیا لري، چې یوه اندازه د سېلو په دننه کې د ډوډۍ پخولو او پاته برخه یې په داخلي مارکېټونو کې پلورل کېږي.

**د ډوډۍ پخولو فابریکه**

د فابریکې دغه برخه په څلوېښتو ساعتونو کې د ۲۵ ټنه ډوډۍ، کیک او کلچو تولیدولو وړتیا لري. د پورتنیو ذکر سوو ماشینونو ترڅنګ یوه پایه نوی ماشین هم فعالیت ترسره کوي، دغه ماشین په ۲۴ ساعتونو کې د دوه ټنه ډوډۍ، روټ، کیک او کلچو تولیدولو وړتیا لري.

**مرستندویه برخې**

په دې برخه کې د بخار تولید، لابراتوار، د غلو دانو قبول، تله، ټرانسپورټ، ورکشاپ او اداري څانګې شاملې دي.

**یادونه**

د افغانستان اسلامي امارت د خیرک اقتصادي سیاست او بلخ سېلو دولتي شرکت د مشرتابه پلاوي او مسلکي کارکونکو د هڅو په پایله کې د دې سېلو د ډوډۍ پخولو لومړنی فاز له دېرش کلن خنډ وروسته یو ځل بیا په کار پیل وکړ او په دغه فابریکه کې ښېلا ښېل ډوله کیک، کلچې، ناشتې او روټ پخېږي. د دې شرکت د یادي برخې له فعالېدو سره پنځوسو کسانو ته او د تولید د پراخېدو په صورت کې له ۳۰۰ زیاتو کسانو او خوانانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابروي.




# د پیازو او تازه رومیانو ګمرکي وارداتي تعرفه ټیټه سوه



د تعرفې کمېټې د پرېکړې او د مالیې وزارت مقام په منظورۍ د هیواد په بازارونو کې د پیازو او تازه رومیانو د قیمتونو راکمېدو په موخه د یادو اقلامو وارداتي ګمرکي تعرفه له ۲۰ سلني څخه ۵ سلني ته راکښته سوه. پخوا چې د پیازو تعرفه ۲۰ سلنه وه له في ټن څخه شاوخوا ۳۱۸۰ افغانۍ ګمرکي محصول اخیستل کېده اوس مهال یې چې تعرفه ۵ سلنه سوه له في ټن څخه شاوخوا ۱۳۵۰ افغانۍ ګمرکي محصول اخیستل کیږي. همداشان پخوا چې د رومیانو تعرفه ۲۰ سلنه وه له في ټن څخه شاوخوا ۳۴۳۰ افغانۍ ګمرکي محصول اخیستل کیده، اوس مهال یې چې تعرفه ۵ سلنه سوه له في ټن څخه شاوخوا ۱۴۵۰ افغانۍ ګمرکي محصول اخیستل کیږي. د یادوني وړ ده، چې یاده پرېکړه د هیواد په ټولو ګمرکونو کې د پلي کېدو وړ ده.



# اعلانات داوطلبی

**به اعلان سپردن کانتین در شفاخانه احمد شاه بابا**

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه جای یکباب کانتین بمساحت (۱۲) متر مربع واقع داخل محوطه شفاخانه احمد شاه بابا ارزان قیمت ولایت کابل را بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد. اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد فوق را داشته باشند، میتوانند سر از تاریخ ۱۹قوس الی مدت (۲۱) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر ، منزل چهارم تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

**به اعلان سپردن کانتین در شفاخانه اندونیزیا ارزان قیمت**

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه جای یکباب کانتین بمساحت (۱۲) متر مربع واقع داخل محوطه شفاخانه اندونیزیا ارزان قیمت، ولایت کابل را بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد. اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد فوق را داشته باشند، میتوانند سر از تاریخ ۱۹ قوس الی مدت (۲۱) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر ، منزل چهارم تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

**به اعلان سپردن کانتین در شفاخانه صدری ابن سینا**

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه جای یکباب کانتین بمساحت (۱۲) متر مربع واقع داخل محوطه صدری ابن سینا واقع ناحیه اول ولایت کابل را بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد. اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد فوق را داشته باشند، میتوانند سر از تاریخ الی مدت (۲۱) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر ، منزل چهارم تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

**به اعلان سپردن پارکینگ شفاخانه علی جناح**

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه موازی (۲۰۸۳) متر مربع پارکینگ وسایط واقع شفاخانه علی جناح دشت برچی ولایت کابل را بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد. اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد فوق را داشته باشند، میتوانند سر از تاریخ ۱۹ قوس الی مدت (۲۱) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر ، منزل چهارم تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

**به اعلان سپردن پارکینگ شفاخانه شیخ زاید**


ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه موازی (۳٤۷۵) متر مربع پارکینگ وسایط واقع شفاخانه شیخ زاید ولایت کابل را بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد. اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد فوق را داشته باشند، میتوانند سر از تاریخ ۱۹ قوس الی مدت (۲۱) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر ، منزل چهارم تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

# شتمنی SHTAMANAI

**د امتیاز خاوند:** د ماليې وزارت
**مسؤل مدير:** احمد ولي حقمل
**مرستيال:** محمد نبي سلطاني
**کتنپلاوي:** ندا محمد صديقي، عبدالرحمن سجاد، ابراهيم گران او اجمل زاهد
**د خبر مدير:** داود نظري
**خبريال:** سيد مصطفی سروش

**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**عکاس:** فضل احمد يوسفزی
**ډيزاينر:** محمد نسيم ظهوري
**ويبپاڼه:** mof.gov.a
**ټويټر:** afghanistanmof@
**يوټيوب:** afghanistan mof
**شمېره:** ‎(+)۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰



**بريالی فيضي**

افغانستان په سيمه کې پام وړ ترانزيتي اهميت لري افغانستان د يو ډېر ارزښتمن جغرافيوي موقعيت درلودونکی دئ، چې د تاريخ په بېلابيلو پړاوونو کې ئې خپل مهم رول ادا کړی دئ. په سيمه کې ټول هيوادونه د خپل اقتصاد د رشد او سوداګرئ د پراختيا له پاره اړ دي، چې د افغانستان له لارې د نورو هيوادونو سره خپلې تجارتي اړيکې وساتي. افغانستان د جنوبي آسيا هيوادونه له مرکزي آسيا سره نښلوي، که د جنوبي آسيا هيوادونه وغواړي خپلو سوداګريزو توکو ته ښه بازار ولري، تر مرکزي آسيا او آن اروپا پورې ئې ورسوي، نو اړ دي، چې د افغانستان له لارې خپل سوداګريز توکي ولېږدوي.

**محب الله وثيق**

د افغانستان اسلامي امارت د کسبګرو او هټيوالو د هڅونې په موخه د ماليې په کچه کې د پام وړ کموالی راوستی دی، له دې ورسته به د يونيم فيصد (۱,۵٪) ماليې پر ځای فقط نيم فيصد (۰,۵٪) ماليه اخستل کيږي.

**محمدنبي سلطاني**

د قوشتيپې په شان د لويې پروژې د کارونو چټکتيا دا راښيي، چې زموږ تېر تاريخ په خپله غېږ کې دغه ډول د اولس د هوساينې او جوړوني بله کارنامه نه لري.

**ذبيح الله مجاهد**

برق وارداتی از کشور ترکمنستان به ولايت هرات وصل گرديد.
از اثر سعی وتلاش اينجينران شرکت بريشنا، لين موقتی از کشور ترکمستان به هرات وصل شد و فعلا نيازمندی آن ولايت رفع خواهد گرديد، ساخت لين قطع شده اصلی ولايت هرات نيز تحت کار است که ترميم شده وبه حالت عادی بر خواهد گشت.

**هدايت الله (هدايت)**

وضاحت در مورد زمين های اطراف کانال قوش تپه!
کانال قوش تپه در شمال کشور يکی از پروژه های ملی شرکت انکشاف ملی است، که اکنون کار فاز اول آن به سرعت ادامه دارد..










## UN Secretary-General's Special Representative for Afghanistan Meets Minister of Finance



Roza Otunbayeva, the UN Secretary-Special General׳s Representative for Afghanistan and Head of UNAMA, met with Minister Of finance Alhaj Mullah Hedayatulla Badri. During the meeting, the Minister of Finance thanked the United Nations for its humanitarian assistance and welcomed Ms. Otunbayeva. While demanding that humanitarian aid be provided in collaboration with government agencies, emphasized the importance of providing Afghanistan with development assistance in addition to humanitarian aid. Alhaj Mullah Hedayatullah Badri also stated that all business in the Ministry of Finance is conducted in an ethical and open way, and that all revenue is collected transparently through the system. Ms. Roza Otunbayeva praised the Ministry of Finance׳s leadership for maintaining Afghanistan׳s economic stability and preparing the national budget.. She also gave the assurance that the international organizations would continue to foster good relations and provide humanitarian aid for Afghanistan.

## Minister of Finance visited Qush Tepa Irrigation Canal



On Dec 08, 2022, Alhaj Mullah Hedayatullah Badri, Acting Minister of Finance, Abdul Rahman Attash, General Executive Director of National Development Company, Balkh Governor, Mohammad Dawood Muzamil and the delegation accompanied by him visited different parts of Qush Tepa Irrigation Canal. The Acting Minister of Finance, Mullah Hedayatullah Badri expressed his satisfaction with the project implementation process and stated that the Islamic Emirate of Afghanistan is committed to completing the national mega project under any conditions with all of its costs being covered by domestic revenue. Abdul Rahman Attash said that the Canal's drilling work is proceeding quickly we are striving to complete the national mega project with higher standards of quality and quantity. The Qush Tepa Irrigation Canal is one of the mega national projects in the history of the country, after its completion, about 700000 acres of barren wasteland in the north of the country will be irrigated.

## Onion and tomato import customs duties have been reduced



The import customs tax was reduced from 20% to 5% in accordance with the tariff committee׳s decision and the approval of the country׳s minister of finance to lower the price of onions and tomatoes in the marketplaces. Prior to this, the onion tariff was 20%, and a customs fee of 3180 Afghanis per ton was assessed. And with the tariff set at 5%, the goods is now taxed 1,350 Afghanis per ton.



Additionally, the tariff for tomatoes was set at 20%, or 3,430 Afghanis per ton of output, prior to this. And now, 1,450 Afghanis are collected on every ton of tomatoes when the tariff is set at 5%.